# بایزید د پښتو اولنے صاحب کتاب شاعر

# Bayazeed the 1st Pashto Book Writer Poet

Faqir Muhammad Faqir [1], Shahab Aziz Arman [2]

If the history of Pashto language and Pashtun nation enables us towards its ancient period but unfortunately, literary and scientific aspects are not found in Pashto. And in this respect the available data loses its importance as the foundations provided for that are not so much vital and trusted. Bayazed Ansari (Pir Rokhan) is the person who becomes the fortune of this language as he and his followers contributed a lot to Pashto and are declared the pioneers in Prose and Poetry. He becomes the torch bearer of the literature and a mega series of literary movements get start from him. Bayazed Ansari is a well-known prose writer but his poetry is not so much familiar. The reason behind is that his poetry manuscripts were not found. It is also a fact that his poetry is substandard. Some of the critics are doubtful about his poetry due to which the students of literature remained unaware of his poetry. Modern research proves that Dh Ilam risala, Khairul Bayan and Farht ul Mujtaba are the writings of one man. The teachings, words, terminologies and style of these books are the same. Besides that the personal formed words of Bayazed Ansari are also found in these items. Those specific words are not even used by Roshanites. On the basis of the mentioned facts we can clearly claim that like Khairul Bayan "Dh Ilam Risala" and "Farhatul Mujtaba" are the first poetic sources of Bayazed Ansari.

د پښتو ژبې او قام تاریخ که هر څو مونږ لرغونې دورې ته رسولے شي او دغه قدامت حق هم لري خو د بده مرغه د دې ژبې لمنه د ادبي او علمي اثارو له ملغلرو خالي ده او که چرته څه نه څۀ درک او څرک مخې ته راغلے هم دے نو ارزښت ئې په خپل ځائے خو د سائنسي او علمي څېړنې له رویه مضبوط بنیادونه نۀ لري ـ قطعي اوسندي دعوه پرې نۀ شي کېدلے ـ

د وخت په دغه روان مزل کښې د پښتو ژبې د نیک مرغۍ دوران هغه وخت شروع کېږي چې د بایزید روښان په شکل کښې د قدرت د پېرزونې د باران شېبې دوام مومي او دغه شخصیت د نظم او نثر سره سره د نورو اولیتونو څښتن ګرځي ـ دپښتو ژبې د اولني نثر نګار او شاعر په توګه ښکاره

1 Lecturer, Pakhtunkhwa Study Center, Bacha Khan University
2 Lecturer, Govt Degree College, Tangi

کېږي ـ د علم او ادب جمود داسې ماتوي چې د راتلونکي دور سرخېل ګرځي او ددۀ نه د علم و ادب د کاروان نۀ ختمېدونکې سلسله روانېږي ـ

د بايزيد انصاري د نثر اوليت نه ډا ګه دے خو د هغۀ د شاعرۍ اوليت په عامه توګه شهرت نۀ لري ـ د دې يوه وجه دا کېدے شي چې د شاعرۍ قلمي نسخې ئې مخې ته نۀ وې راغلې او بله دا چې ددۀ شاعري د کمزورې درجې ده ـ د شاعرۍ قلمي نمونې ئې وروستو پېدا شوې دي او بيا پرې ځنې نقادانو د شک اظهار هم کړے دے نو په داسې حالاتو کښې د ادب طالبعلمان د هغۀ د شعري مقام نه ناخبره پاتې شوي دي ـ

د بايزيد د شاعرۍ يا شاعر کېدلو باره کښې د هېڅ شک ګنجائش نشته ځکه چې د "حالنامه" او "مخزن" شهادتونه دا ثابتوي چې پير روښان پښتو او فارسۍ کښې شعرونه ليکلي دي ـ

> "روښانيانو د پښتو ژبې او ادب سره بيلې خلقې زنځير کړې، د درويزه او د دۀ پيروانو بيا خوشحال بابا او د خټکو او د پښتو ادب د نورو اديبانو په وسيله دا زنځير وغځېدو او هم دا وخت ئې د پښتو ادب زنځير طلائي شو ـ" (۱)

بايزيد انصاري شاعري کړې ده د دې ګواهي حالنامه ورکوي چې:

> **"پير دستګير قدس سره بزبان افغاني قصيدهاو غزل هاو رباعيهاو قطعهاو مثنوي هاسا ختند۔"(۲)**

ترجمه: پير دستګير قدس سره په افغاني ژبه قصيدې، غزلونه، رباعيانې، قطعې او مثنويانې جوړې کړي دي ـ

اخو درويزه بابا هم د مخزن په سريزه کښې شاعر ياد کړے دے ـ

> **وآن ملغون بزبان افغاني شعريت گفت(۳)**

ترجمه: او دغه لعنتي په افغاني ژبه شعرونه وئيل ـ

د بايزيد د شاعرۍ کتابونه "د علم رساله" يا روښاني رساله او فرحت المجتبٰى مخې ته راغلي دي ـ اولنے ذکر شوے کتاب د "روښاني رساله" په نوم ددوست شنواري په زيار ۱۳۵۵ د پښتو ټولنه له

خوا خور شوے دے - او بیا هم د دغه څېړونکي له اړخه "د علم رساله" په نوم د افغانستان د علومو اکاډيمي د ژبو او ادبیاتو مرکز په ۱۳۶۴ کښې چاپ کړې ده - د بايزيد انصاري د شاعرۍ راڅرګندېدو سره پرې ځينې نقادانو د شک اظهار هم کړے دے - صديق الله رښتين خيال څرګند کړے دےچې دا رساله د پير روښان ده او که نه د واصل یا ارزاني لیک دے - زيات امکان د ارزاني ظاهروي - (۴)

د پوهاند رښتين دې خيال سره اتفاق ځکه ممکن نۀ دے چې نۀ خو د واصل شاعري او نۀ د ارزاني شاعري دومره د کمزورۍ درجې ده - د دغې دواړو شاعري د اوچت معيار ده او د اولې درجې شاعران دي - د بايزيد شاعري ډېره کمزورې او د درېمې درجې ده، هيڅ قسمه هنر، فن او ادبي حېثيت نۀ لري خو د لغوي ذخيرې او تاريخي اړخه اهم حېثيت لري - (۵)

د "خير البيان تنقيدي مطالعه" کښې قلندر مومند هم د بايزيد "د علم رساله" متنازعه ګرځولے ده -

"د روښاني رسالې په ضمن کښې لا دا خبره په حتمي طور فېصله شوې نۀ ده چې دا د بايزيد روښان تصنيف دے بلکې لکه څنګه چې حبيبي مرحوم فرمائيلي دي دا خبره نوره څېړنه او مطالعه غواړي او سړے سل په سل کښې حکم نۀ شي کولے تر څو چې د دغه رسالې نسبت پير روښان ته په يو بل دليل ثابت نۀ شي -" (۶)د رښتين هم دا خيال دے چې دا رساله نوره پلټنه غواړي (۷)

قلندر مومند د دوست شنواري په اړه ليکي چې دې دا ثابتول غواړي چې دا رساله د پير روښان ده او وائي چې هېواد مل په خپل څېړنيز کتاب "د هند د کتاب خانو پښتو خطي نسخې" دا خبره فېصله کړے چې دا رساله او فرحت المجتبیٰ يو دي او د پير روښان دي (۸)

دا خبره ښخي سمه ده چې هېواد مل دغه ذکر شوے کتاب تذکره ميا روښان او فرحت المجتبیٰ يو ګڼلي دي او بله دا چې د دې دوېم کتاب شعرونه ئې ددې کتاب د کاتب ګل محمد روښاني ګڼلي دي - بيا وروستو هېواد مل فرحت المجتبیٰ ځان له چاپ کړو او په خپله سريزه کښې ئې د دغې تېروتنې ازاله، تصحيح او اعتراف هم کړے دے (۹) حبيب الله رفيع هم دا دواړه يو اثر ګڼي خو تر دغه وخته يعني ۱۹۸۹ء دا نوي معلومات نۀ وو (۱۰)

"فرحت المتجبیٰ د بایزید یوه ورکوټې رساله ده چې د هندوستان د پایه تخت دهلي په ملي میوزم د "تذکره علم"د نسخې د پاڼې په، ۵۳، ۵۵ پاڼو کښې لیکلې شوې ده ـ خط ئې نستعلیق دے او لیک دود ئې د روښاني خطاط د روښانیانو د لارې پیروکار ګل محمد روښاني دے ـ" (۱۱)

د فرحت المجتبیٰ او علم رساله اسلوب او تعلیمات یو رنګ دي او دا چې د رسالې نه پس لیک دے ـ سره د تکراري شعرونو ئې ټول تعداد یو پنځوس دے او ترکیب بند په شکل کښې لیک دے اوولس بندونه لري ـ د هر بند څلور مصرعې دي ـ هر بند نه پس دا شعر تکرارېږي :

څو عالم تېر شوي دي لا به پسې ځي
په مرګ به واړه ومري څوک دې نۀ کا نامیدي

د هېواد مل مطابق فرحت المجتبیٰ کښې ټولې اوولس رباعي ډوله نظمونه راغلي دي (۱۲)خو د دې کتاب د لوستلو نه دا ثابتېږي چې نۀ خو دا رباعیانې دي او نۀ بېل نظمونه دي بلکې ترکیب بند نظم دے ـ دا نظم د ژوند د بې ثباتئ، اصلاح، د الله ویره، عذاب، مرګ، نیکي، اطاعت، شریعت، طریقت، حقیقت، معرفت، قربت، وصلت، وحدت او سکونت مضامین لري ـ

د دې نه علاوه د دې رسالې باره کښې خدمتګار بختاني دا خیال څرګند کړے دے چې رساله د میا روښان په نامه شروع شوې ده او ۲۱ ځایه د مسکین نوم راغلے دے نو دا به هم د دۀ وي ( ۱۳)

بیا هم بختاني کلکه خبره نۀ کوي چې دا اثر د میا روښان دے او که د بل چا روښاني مرید دے او دا چې کېدے شي چې د ارزاني وي ـ

"د دې رسالې او د خیرالبیان ترمینځ د لغتونو، اصطلاحاتو او مضامینو یو راز والې مونږ ته دا جرأت راکوي چې دواړه کتابونه د یو ادبي او فکري مکتب محصول وبولواو په احتمالي توګه کېدے شي چې د یو تن اثار وي مګر دا زړۀ نۀ شو کولے چې په قطعي ډول ئې د یو لیکوال دوې لیکنې وګڼو ـ"(۱۴)

د جدید تحقیق او شهادتونو نه برڅېره کېږي چې د علم رساله، خېرالبیان او فرحت المجتبیٰ د یو لیکوال اثار دي ځکه چې د دې د کتابونو تعلیمات، د لفظونو او کلمو اشتراک یو دے او اسلوب ئې هم مشترک دے (۱۵)

دوست شینواري لیکي:

"په دواړو اثرونو کښې د عبارتونو ترکیب، ګرامري جوړونې او د هغو مخصوصو لغاتو استعمال چې بل ځائے اصلاً نشته او یا په دومره پیمانه نۀ دي استعمال شوي ـ د دې شاهد دي چې دواړه کتابونه د یو شخص تالیف او د یوې قریحې زیږنده دي ـ" (۱۶)

د دواړو کتابونو املا هم یو شان ده، انداز او اسلوب ئې هم یو دے ـ په دې رساله کښې ئې سبک، موضوعات د پیر روښان دي او د هغۀ القابات هم بار بار تکرارېږي (۱۷)

د سبک،تعلیماتو، لغاتو او کلماتو په حواله خېرالبیان، د علم رساله او فرحت المجتبیٰ کښې ډېر اشتراک موجود دے ـ هغه لغات چې د بایزید انصاري ځانګړے نوښت دے او بل چا نۀ دي استعمال کړي ـ هغه په دغې درې واړو کتابونو کښې مخې ته راځي ـ دا اشتراک چې صرف بایزید ته خاص دے نو دا ترې ثابتېږي چې هم د دۀ اثار دي ـ

"د پښتو د کلاسیک ادب په زیاتو اثارو کښې مونږ نیولوګزم تشخیصولے شو خو په دې برخه کښې له بل هر چا زیات بایزید روښان په خپلو تالیفاتو یعنې په خېرالبیان او د علم رساله کښې د نیولوګېزم زښته ډېره زیرمه لیدله شي ـ"(۱۸)

د بایزید انصاري د خېرالبیان او دعلم رساله کښې داسې لفظونه شته چې صرف تر هغه پورې محدود دي او د هغۀ نه علاوه بل چا نۀ دي استعمال کړي ـ یعنې رواج ئې نۀ دے موندلے تر دې چې روښانیانو هم نۀ دي راوړي ـ (۱۹)بایزید انصاري د مرکباتو او اصطلاحاتو په اړه نوې تجربې کړي دي خو په دغو کښې زیات وضعي لفظونه او اصطلاحات په لساني حواله بس تر خېرالبیان محدود دي ـ (۲۰)

د خېر البیان او دعلم رساله یوشان لفظونه چې د بایزید ځانګړي دي ـ

- اسپرین او سرولین (خېرالبیان مخ ۲۳۸)، د علم رساله مخ ۵۰
- ژواک بنده:هغه غلام چې د ذاتي خدمت د پاره وي ـ (خېرالبیان، مخ ۳۰۲، د علم رساله، مخ ۶۸)
- درنه پلیتي: نجاست غلیظه (خېرالبیان مخ ۲۳۷، د علم رساله، مخ ۴۹)
- زیرړي: پیپ، نو (خېرالبیان مخ ۲۳۱، د علم رساله، مخ ۴۵)
- سپکه پلیتي: نجاست خفیفه (خېرالبیان مخ ۲۳۷، د علم رساله، مخ ۵۰)
- سپېروبي: ودي (خېرالبیان مخ ۲۳۱، د علم رساله، مخ ۴۵)
- شرم ځاے: (خېرالبیان مخ ۲۴۲، د علم رساله، مخ ۴۱)
- نالت: بد ځناور، خنزیر: (خېرالبیان مخ ۲۳۴، د علم رساله، مخ ۳۷)
- هوس اوبي: مذي: (خېرالبیان مخ ۲۳۳۱، د علم رساله، مخ ۱۷۶)

د دې نه علاوه نور لفظونه هم شته چې د بایزید انصاري خپل جوړ کړي لفظونه دي او نورو لیکونکو تر دې چې روښاني لیکونکو هم نۀ دي استعمال کړي ځکه مونږ په کلکه دعوه کولے شو چې څنګه خېرالبیان د بایزید اولنے نثري کتاب دے دغسې د علم رسالې او فرحت المجتبٰی په حواله د شاعرۍ اولنې لیکونکے دے ـ

د لیک انداز ئې هم یو دے خېرالبیان کښې لیکي چې هادي وئیلي دینه او د علم په رساله کښې وائي چې مسکین وئیلي دینه ـ

فرحت المجتبٰی کښې وائي میا روښان وئیلي دي په عنایت د الٰهي

په خېرالبیان کښې دا شعر شپږویشت ځله راغلے دے

مرګ به ورشي وسړي ته ناګهان
نشته د سړي په دنیا کښې تل د تله مقام

په تذکره یا د علم رساله کښې شل ځله دا شعر تکرار شوے دے

مسکین وئیلي دینه

دا سړي دے ونغویږینه

فرحت المجتبیٰ کښې دا شعر بیا بیا تکرارېږي

څو عالم تېر شوي دي لا به پسې ځي
په مرګ به واړه ومري څوک دې نۀ کانا صیدي

د رسالې د پیدا شوؤ نسخو په اخر کښې لیک دے چې:

دا تصنیف د میا روښان دے
سړي دے و نغویږینه (۲۱)

اخون درویزه هم د بایزید د رسالې ذکر په مخزن کښې په مخ ۱۲۳ او ۱۲۴ کړے دے چې خېرالبیان او نورې رسالې ئې د کفر او الحادیه په باب لیکلې دي - (۲۲)

بایزید انصاري د رسالې د شعرونو نمونه نۀ ده ورکړې خو د خېرالبیان سره ئې رسالې هم یادې کړې دي - د موجوده رسالې پیدا کېدو سره د حالنامه او مخزن بیان نور هم حقیقت مومي -

ځکه مونږ وئیلے شو چې ارزاني خویشکي اولنې صاحب دیوان شاعر دے خو اولنې صاحب کتاب شاعر پیر روښان دے ځکه چې د دیوان خاتمه د شاعر د ژوند اخري وخت کښې کېږي - دیوان الف بائي ترتیب لري او ټوله شاعري پکښې خوندي وي - بایزید انصاري د ارزاني نه تقریباً شل پینځویشت کاله وړاندې مړ دے او هغه فرحت المجتبیٰ او "د علم رساله" یا "روښاني رساله" د مرګ نه ډېر وړاندې بلکې د خېرالبیان نه هم وړاندې لیکلي دي نو داسې حال کښې جوته خبره ده چې بایزید انصاري د پښتو ژبې اولنې کتاب لرونکے شاعر دے -

**ماخذونه**

۱: رفیع، حبیب الله، ژب ساتنه، جلال اباد، مومند خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۴ ل، مخ ۲۷
۲: حالنامه

۳: اخون درویزه، سریزه مخزن، مؤلفه سید تقویم الحق کاکا خېل، پېښور، پښتو اکېډیمي، پېښور یونیورسټي، ۱۹۸۷ء، مخ ۲
۴: پوهاند، رښتین، روښاني رساله، مشموله، روښاني رساله، مؤلفه څېړنوال، دوست پښتو ټولنه ۱۳۵۵، مخ الف
۵: ز، هـ، سریزه دعلم رساله، مؤلفه دوست شینواري، د افغانستان د علومو اکاډیمي، ۱۳۶۴، مخ هـ
۶: قلندر مومند، د خېرالبیان تنقیدي مطالعه، د چاپ ځاے، ۱۹۸۸ء، مخ ۱۳۶
۷: رښتین، صدیق الله، روښاني رساله، مخ، ج
۸: د خېر البیان تنقیدي مطالعه، مخ ۱۲۷
۹: فرحت المجتبیٰ، سریزه، مخ ۱۲
۱۰: رفیع، حبیب الله، روښاني لیکنې، خویشکي، ارزاني پښتو ادبي جرګه، ۱۹۸۹ء، مخ ۲۹
۱۱: فرحت المجتبیٰ،
۱۲: هم دغه، مخ ۹
۱۳: بختاني، عبدالله خدمتګار، زیرے، ۳۹ ګڼه، کابل، دولتي مطبوعه، ۱۳۵۳
۱۴: بختاني، عبدالله خدمتګار، دا رساله به د چا اثر وي؟، مشموله روښاني رساله، مؤلفه دوست شنواري، کابل، پښتو ټولنه، ۱۳۵۵
۱۵: فرحت المجتبیٰ، مخ ۱۰
۱۶: څېړنوال دوست، روښاني رساله، مخ، ز
۱۷: ناګار، فضل ولي، د بایزید روښان، عرفاني،ادبي ښوؤنځے، ناګار خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۰ ل، مخ ۱۳۰
۱۸: دوست شنواري، سر محقق، د حمید مومند په اشعارو کښې نیولوګېزم، مشموله، د عبدالحمید مومند یاد، مؤلفه زاهد، کابل، د افغانستان د علومو اکاډیمي ۱۳۶۶، مخ ۵۴
۱۹: فقیر، فقیر محمد، د بایزید انصاري نیولوګېزم، مشموله، پښتو، پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي، جنوري، دسمبر ۲۰۱۴ء، مخ ۱۵۵
۲۰: اسماعیل ګوهر، د خېرالبیان د لغاتو یوه لساني مطالعه، مشموله، پښتو، پښتو اکېډیمي، پېښور یونیورسټي، اکتوبر ۲۰۱۰، ستمبر ۲۰۱۱ء، مخ ۷۳
۲۱: هیواد مل، فرحت المجتبیٰ، مخ ۱۹
۲۲: اخون درویزه، مخزن، مخ ۱۲۴